مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

ډاکټر محمدآجان مرزئ

۲۰۲۰/۰۲/۱۵

# د زړه لمبې

شعلې بلې مغرب کې که د سوي زړه لمبــې دي
کوڅې د مستو وراني ړنګ دیوال د خرابات شو
مسکا له شونډو ورکه ورک آواز د مـــهرویانو
لنډ عمر د بــهار شو رېباران د خـــزان راغلل
کعبه د زړه مو هېره عبادت کړو په مـعبد کې
ساعت د ظلمتونو ستوري نه ګورم آسمان کې

خاتول سینګار کړې دښتې که د میو سرې پیالې دي
دا سیوره د زاهــد ده کـــه د تـــورو شپو کیسې دي
ســاز ورک د مطربـــانو که د غم نـــوې نغمې دي
بدرنګه مــو بـــختونه کـــه د ژونـــد دا سلسلې دي
ګناه ته کـــفاره ده کـــه د اور لـــه وير ســـجدې دي
رڼا ورکـــه له سترګو کـــه پردې د تـــورې شپې دي

درویش له کلي لاړو دروازې د سوال شوې بندې
سخـــا نشته تقدير کې کـــه د عـــدل جنـــازې دي




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په ځير و لولئ